دافغانستان د بیارغونی صندوق

د افغانستان اسلامي جمهوریت

# <u>مطبوعاتي اعلامیه</u>

## د پروژې د قرارداد لاسلیک: د افغانستان حکومت له نړیوال بانک سره دسیمه ییزې حکومتدارۍ دپیاوړتیا او کلیوالي زیربناوو د ښه والي له پاره د ۲۵۰ میلیونه وړیا مرستې موافقه لیک لاسلیک کړ

**کابل، د سلواغې ۴، ۱۳۹۱ (د جنوري ۲۳، ۲۰۱۳):** د افغانستان حکومت نن له نړیوال بانک سره د ملی پیوستون د پروګرام د دریم پړاو، چې همدا اوس جریان لري، د تمویل لپاره د ۲۵۰ میلیونه امریکایی ډالرو موافقه لیک لاسلیک کړ. د افغانستان د بیارغونې د صندوق ددې وړیا مرستې موخه د سیمه ییزې حکومتدارۍ د پیاوړتیا او په کلیوکې د ټولنیزې او اقتصادي پرمختیا لپاره د مرستندویه نهادونو په توګه دسیمې د پرمختیا شوراګانو را میمځته کول او پیاوړي کول دي.

*"دملي پیوستون د پروګرام له لارې په زرګونو د ټولنیزې سوکالی او انسجام په لاره کې ګډې هلې ځلې او مرستې دیو ډیر مهم محرک په توګه دی،"* **دغه مطلب د افغانستان د اسلامي جمهوریت د مالیې وزیر جلالتمآب عمر زاخیلوال** څرګند کړ، زیاته یې کړه: *"دغه پروګرام د ښځو په ځواکمنولو، دسیمه ییزې حکومتدارۍ په رامینځته کولو او پیاوړي کولو، او د اساسي زیربنایی خدمتونو په برابرولو کې د حکومت د نقش د ونډې په ښه کولوکې مهمه ونډې لري. موږ له نړیوال بانک او د افغانستان دبیا روغونې د صندوق له تمویلوونکو څخه د افغانستان د حکومت په پرمختیایی هلو ځلو کې دونډې اخیستلو له امله مننه او قدردانی کوو."*

د ملي پیستون پروګرام د کلیو په سطح د حکومت دیوازینی لوی پروګرام په توګه ګنل کیږي، چې په ټول هیواد (دټولو ۳۴ ولایتونو) کې فعالیت کوي، موخه او هدف یې دسیمه ییز حکومتدارۍ او په کلیوکې د ټولنیزې او اقتصادي پرمختیا لپاره د اغیزناکو نهادونو په توګه د سیمیزو منتخبو شوراګانو رامینځته کول او پیاوړي کول دي. دغه پروګرام د جمهوري ریاست ددویم مرستیال جلالتمآب کریم خلیلي تر مشرۍ لاندې د بین الوزارتي رهبري کمیتی له خوا تطبیق کیږي. اوس چې ددې پروګرام ددریم پړاو جریان لری، د کتنې وړ پرمختګونه ترلاسه شوي دي. په ۲۰۰۳ کال کې ددې پروګرام له پیل څخه تر اوسه پورې د افغانستان د کلیو او بانډو خلکو وکړای شول چې سره یو موټی شي او په آزاده او دموکراتیکه بڼه له ۳۴۰۰۰ څخه زیاتې سیمه ییزې شوراګانې انتخاب کړی. *"د افغانستان د کلیو خلک په دې برخه کې ستره ونډه لري،"* **دغه مطلب جلالتمآب عمر زاخیلوال** په ټینګار سره څرګند کړ، او په دوام یې زیاته کړه: *"دملی پیوستون پروګرام دخپل ژوند مهم پړاوته رسیدلی او اوس ددې وخت دی چې موږ دلاس ته راوړنو او ددې پروګرام دراتلونکې په اړه بحث وکړو."*

نوموړي پروګرام له ۱،۲ میلیارد څخه زیات امریکایی ډالر ثابته انکشافي وجه مستقیماً دسیمه ییزو پر مختیایی شوراګانو با نکی حسابونوته د کلیو په سطحه له ۶۵۰۰۰ څخه زیاتو پروژو د تمویل لپاره، چې د منتخبو شوراګانو له خوا پلان او تطبیق شوې دي. برابر کړی دي، چې له هغې جملې څخه له ۵۲۰۰۰ څخه زیاتې پروژې بشپړې شوې دي. دا زیاتره پروژې به د تولیدي او ټولنیزو زیربناو په برخوکې دي. چې پکې د څښلو روغتیایي اوبه (په سلوکې ۲۴) کلیوال سرکونه (په سلوکي ۲۶) اوبه لګول (په سلوکی ۱۹) بریښنا (په سلوکې ۱۲) اوښوونه او روزنه (په سلوکی ۱۰) شامل دي.

*"دملي پیوسټون پروګرام په میلیونو افغانان د ټول هیواد له ۳۴۰۰۰ څخه په زیاتو کلیوکی تر خپل پوښښ لاندې راوستي دي،"* **دغه مطلب د افغانستان د اسلامي جمهوریت د کلیو د پرمختیا او بیارغونې د وزارت وزیر جلالتمآب ویس برمک،** څرګند کړ، زیاته یې کړه: *"پرمختیایي پروګرامونو د کلیو د خلکو په مشرۍ او مالکیت د میلیونو افغانانوپه ژوندکې ښه والی او پرمختګونه رامینځته کړي دي. زیات شمیر وګړی د فقراو غربت په شرایطو کې ژوند کوي، ولې له دې سره سره بیا هم یې ټل خپلې پیسې او د کار ځواک په سیمه کې د پرمختیایي لومړیتوبو د تحقق او بدلونو لپاره لګولي دي.دبیارغونې د صندوق دغه ارزښتمن ملاتړ له موږ سره دا مرسته کوي، تر څو ډیر*

*کلي، په ځانګړې توګه هغه کلي چې تر اوسه پکې سیمه ییزې پرمختیایی شوراګانې نه دي جوړې شوي له دې پروګرام څخه ګټه واخلي، تر څو له دې لارې له مخکې څخه تر سره شوې پانګه اچونې پیاوړې کړو او هغه ته له مخکې څخه زیات پایښت لرونکی کړو."*

په داسې حال کې چې د ملي پیوستون د پروګرام لاس ته راوړنې ډیرې روښانه او څرګندې دي خو د کلیوالي اوسیدونکو د اړتیاوو درفع کولو لپاره ډیر کارونه پاتې دي. د ثابتې انکشافي وجهې ترلاسه کولو لپاره غوښتنه، چې ټولنیزې او اقتصادي زیربناوې پرې پیاوړې کړي، ډیره زیاته شوې ده. حکومت دملي پوښښ په سطحه هغو سیمو او ځایونوته دوړیا تخصیصی ثابتو مرستو دبرابرولولپاره ژمن دی چې خپلې فرعې پروژې یې په بریې سره به بشپړه توګه ترسره کړې دي.

*"دملي پیوستون پروګرام په کلیوکې اړمنو وګړو ته، د خدمتونو په برابرولو، لکه روغتیایي او تعلیمی مرکزونو، بریښنا او دڅښلو اوبو ته لاس رسی په برخه کې ډیر اغیزناک دی،"* **دغه مطلب د افغانستان لپاره د نړیوال بانک رئیس ښاغلي رابرت سام** څرګند کړه، *"د اقتصادی فرصتونو پیاوړتیا د افغانستان په کلیو او بانډوکې د غربت د کمولو او ټولنیزې سوکالی لپاره مرستندویه واقع شوې ده. نړیوال بانک به له نورو تمویلوونکو سره، له دې ملی پروګرام څخه، په دې مهم پړاو کې چې د انتقال اولیږد پروسه د تطبیق په حال کې ده، زیات ملاتړته دوام وکړي."*

دوې پروګرام ددریم پړاو د تمویل لپاره دغه وړیا مرسته، به نویو ۵۱۶۸ کلیوکې دنوموړي پروګرام د خپریدو لپاره، چې تر اووسه پوري ددې پروګرام ترپوښښ لاندی نه دي راغلي، او همدارنګه دموجودو ۷۲۴۰ سیمه ییزو پرمختیایي شورا ګانو ددویمي مرحلی ثابتې تخصیصي وړیا مرستې په ۱۳۹۲ لمریز کال کي (د ۲۰۱۳ میلادي کال له جنوري څخه تر دسمبر پوري) تمویلوي.

ددې پروګرام ددریم پړاو لپاره د پنځو کلونو (۲۰۱۰-۲۰۱۵) مجموعي بودجه ۱،۵ میلیارد ډالر اټکل شوې ده، چې له هغې جملې څخه نړیوال بانک ۴۰ میلیونه ډالره وړیا مرسته برابره کړې ده. په اوس وخت کې د افغانستان د بیارغونې صندوق ددې پروګرام ددریم پړاو د تمویل لپاره په دریو قسطونو کې، دنن ورځې مرستې په شمول، ۷۵۰ میلیونه ډالروته رسیږي.

**د افغانستان د بیارغونې صندوق په هکله عمومی معلومات:**

نړیوال بانک د افغانستان د بیارغونې صندوق د دې صندوق د تمویلوونکو په استازیتوب اداره کوي. دغه صندوق د نړیوالې ټولنې او د افغانستان دولت ترمینځ د دغه هیواد د غوره او اغیزناکې بیارغونې له پاره د ګډو هلو ځلو د یوې مهمې وسیلې په توګه ګڼل کیږي. د ۲۰۰۲ میلادی کال له لومړیو راهیسې ۳۳ تمویلوونکو له دغه صندوق سره له ۶ میلیارد ډالرو څخه زیات ژمنه کړې دي، چې د هغې په نتیجه کې د افغانستان د بیارغونې صندوق د افغانستان د دولت د بودجې (هم عادي او هم د پرمختیایي پروګرامونو له پاره) پر یوې ډیرې سترې تمویلوونکې منبع بدل شوی دی. د دې صندوق مرسته او ملاتړله هغو ملي پروګرامونو څخه، چې د دولت د اجندا په لومړیتوب کې واقع دی، همدارنګه د دولت د عادي بودجې او په پالیسی کې د اصلاحاتو او سمون د پالیسی له پاره، د افغانستان د ملي پرمختیایي تګلارې موخوته په رسیدوکې ډیره مهمه ونډه لري.


| | | |
|---|---|---|
| د مالیې وزارت<br>وحیدالله توحیدی<br>تیلیفون شمیره: ۰۷۰۰۲۶۶۳۶۳<br>ایمیل:wahid_tawhidi@yahoo.com<br>www.mof.gov.af | د کلیو د پرمختیا او بیارغونې وزارت<br>جمیل دانش<br>تیلیفون شمیره: ۰۷۹۳۰۰۴۰۲۶<br>ایمیل: jamil.danish@mrrd.gov.af<br>www.mail.gov.af | عبد الروف ضیا<br>تیلیفون شمیره: ۰۷۰۰۲۸۰۸۰۰<br>ایمیل:azia@worldbank.org<br>www.worldbank.org.af |